
# الله په ټولو غالِب دے

**23 April 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وار د سُنّتونو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتونو ډک بيان

پهٔ 23 اپریل، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 5 ذو القعده، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ
هفته وارو اِجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# الله په ټولو غالِب دے

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د فرعون او نمرود هلاکت
- ـــ د الله پاک د عدل مثال
- ـــ د بد او ښهٔ اِنسان پیژندنه
- ـــ د طاقت نشه خطرناکه ده

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې پۀ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولوستو، **الله** پاک پۀ هغۀ باندې 10 رحمتونه نازلوي او چا چې 10 کرته درود ولوستو، **الله** پاک پۀ هغۀ باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې 100 کرته درود شريف ولوستو، **الله** پاک د هغۀ د دواړو سترګو ترمينځه ليکي چې دا بنده **د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد** دے او هغه به د قيامت پۀ ورځ د شهيدانو سره ساتي۔ [(1)]

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحْسِن پر | سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خُدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو [(2)]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... معجم اوسط، جلد:5، صفحه:252، حديث:7235۔

[2]... نورِ ايمان، صفحه:57۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات** د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے- [(1)]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښينم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اللّٰه غالِب دے

**اللّٰه** پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ (پاره:7، سورهٔ انعام:61) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هُم هغه پۀ خپلو بندګانو غالِب دے- |

د قاهِر معنیٰ ده: **غلبه لرونکے، اِختيار لرونکے**- د آيت مبارک معنیٰ دا ده چې **اللّٰه** پاک د خپلو بندګانو پۀ ټولو معاملو باندې پوره قُدرت او اِختيار لري ◈ که هغه وغواړي نو ورعطا يې کړي ◈ که وغواړي نو خپلې عطاګانې بندې کړي ◈ که وغواړي نو فائده ورسوي ◈ که وغواړي نو نقصان ورسوي ◈ که وغواړي نو عزت ورعطا کړي ◈ که وغواړي نو د ذِلت کندې ته يې وغورځوي ◈ هغه ژوند ورکوي ◈ هغه مرګ ورکوي، د هغۀ فيصلې رد کول د چا د وَس خبره نۀ ده، هر څۀ د هغۀ پۀ قُدرت او اِختيار کښې

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1-

دي۔[1]

## اِنسان کمزورے پيدا کړے شوے دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ دې خبره باندې ځان پوهه کول دي چې مونږ اِنسانان يو، مونږ پۀ حقيقت کښې ډير کمزوري يو:

وَ خُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا ﴿۲۸﴾ (پاره:5، سورۀ نساء:28)

[مفهوم] ترجمۂ كنزُ العِرفان: او اِنسان کمزورے جوړ کړے شوے دے۔

◈ خو مونږ غرور کوو ◈ غرور او تکبر چې مو کله سر ته وخيژي نو خپلې کمزورئ هيرې کړو ◈ مونږ دا ګڼو چې دا ټوله دُنيا زمونږ پۀ قبضه او اِختيار کښې ده ◈ مونږ چې څۀ غواړو کولے يې شو ◈ کله چې غصه راشي نو مونږ لکه د مار غوندې پرشيږو ◈ لستوڼي راونغاړو ◈ سينې له ډبوو او وايو: تا ته پته شته چې زۀ څوک يم؟ ◈ مونږ خو دا ګڼو چې مونږ ډير طاقتور يو ◈ زمونږ سره پيسه ده، مال دے، دولت دے، بينک بيلنس دے ◈ لويه عهده ده، زما څوک څۀ کولے شي؟

مونږ دا هيروو چې مونږ د خاورو نه جوړ اِنسانان يو، مونږ کمزوري او بے وسه يو ◈ د خوراک کولو پۀ وخت که چرې د اوبو يو ګوټ پۀ غلطئ سره د ساه نالئ ته لاړ شي نو مونږ ګډ وډ کړي ◈ نمرئ که پۀ مرئ کښې وه انښلي نو مرګ مو پۀ سر ودريږي ◈ يو وړوکے شان ماشے زمونږ خوب حرام کړي- خو مونږ د غصې نه پړخيږو- غرور کوو-

## د فرعون او نمرود هلاکت

هغه فرعون---!! هغه ډير کمزورے بنده ---!! هغه خو هم اِنسان وو خو چې کله يـې خپل

---

[1]...حاشيه صاوى على جلالين، پاره:7، سورۀ انعام، زيرِ آيت:61، جز:2، جلد:1، صفحه:186۔

اوقات هير کړل نو وه يـې وئيل:

| | |
|---|---|
| اَنَا رَبُّكُمُ الۡاَعۡلٰى ﴿۲۴﴾ (پاره:30، سورۀ نازعات:24) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زۀ ستاسو د ټولو نه اعلىٰ رَبّ يم- |

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! څنګه غرور وو، اِنسان وو، کمزورے وو خو پۀ غرور کښې د حده تير شو، نو بيا د الله پاک عذاب راغلو، د درياب يوې چپې د هغۀ کار تمام کړو-(1)

نمرود خو هم اِنسان وو، هغه بدبخته لښکر تيار کړو، ميدان ته راوتو او وه يـې وئيل: اے اِبراهيمه! خپل رَبّ ته ووايه چې راشي او زما سره جنګ اوکړي- حضرت اِبراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام د الله پاک پۀ دربار کښې عرض اوکړو: اِلٰهِى تَسۡمَعُ مَا يَقُولُ هٰذَا الۡكَلۡبُ يعنې مولىٰ! تا واوريدل چې دا څناور څۀ بکواس کوي- الله پاک حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام ته وفرمائيل: جبرائيله! زمونږ د ټولو نه کمزورے مخلوق يعنې د ماشو لښکر د دۀ طرفته وليږه! نو ماشي راغلل، دومره ماشي وو چې د ورځې تياره شوه، ماشو د هغۀ د فوځ خرمني هم وخوړلې، د هډوکو ډانچې پاتې شوې- يو ماشے د نمرود دِماغو ته لاړو، هغه به يـې چيچلو، دے د خپلې ټولې بادشاهۍ باوجود، د تاج او تخت او حکومت باوجود د يو ماشي نه تنګ شو، د هغۀ د دربار دا قانون شو چې څوک هم دربار ته راځي، وروميے به د هغۀ سر 10 څپلۍ وهي نو بيا به خبرې کوي- چې څپلۍ به يـې خوړلې نو هغۀ له به سکون ورتللو-(2)

په تفسيرِ نعيمي کښې دي: هغۀ 8 سوه کاله عُمر ومونده، 4 سوه کاله يـې په آرام او راحت کښې تير کړل، 4 سوه کاله يـې د ماشي په وجه [په سر] څپلۍ او لښتې خوړلې او

---

1…سيرت الانبياء، صفحه:596 بتغير قليل-

2…شرح اسماء الحسنىٰ للقشيرى، صفحه:108-

هم داسې د ذِلَّت په مرګ مړ شو۔[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې خبرو نه مونږ د مخکښې نه خبر يو، اورو يــې خو افسوس چې مونږ پرې ځان نهٔ پوهه کوو۔ آيا دا حقيقت نهٔ دے چې مونږ ډير کمزوري يو---؟ آيا دا رښتيا نهٔ دي چې **اللّٰه** پاک پهٔ مونږ باندې غالِب دے، هغه هر ساعت پهٔ مونږ باندې اِختيار لري۔

## د مرګ نه ښوک هم بچ کول نشي کولے

اِمامِ حسنِ بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ يو ځل روم ته تشريف يوړلو، هلته هغوئي يو عجيبه منظر وليدو، په ځنګل کښې پهٔ يو ځائے کښې د اعلیٰ قِسم د ريښميني کپړې يوه ښکلې خيمه جوړه ده او د خيمې ګير چاپيره وسله پهٔ لاس فوځيان ولاړ دي، هُغه فوځيانو پهٔ خپله ژبه کښې څهٔ ووئيل او لاړل، بيا د ملک لوئي لوئي عالمان او مشائخ راغلل، هغوئي هم د خيمې سره ودريدل، څهٔ يــې ووئيل او لاړل، بيا د ملک لوئي لوئي حکيمان، طبيبان راغلل، هغوئي هم د خيمې پهٔ خوا کښې څهٔ ووئيل او بيا لاړل، بيا بادشاه او وزير راغلو، دوئي هم د څهٔ وخته پورې د خيمې سره ودريدل، څهٔ يــې ووئيل او بيا لاړل، اِمامِ حسنِ بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: پهٔ دې ليدو زهٔ ډير حيران شوم، ما د چا نه پوښتنه اوکړه چې دا څهٔ معامله ده؟ نو هغهٔ ووئيل: د بادشاه يو ښکلے، ځلمے ځوي وو، هغه وفات شو، هغه پهٔ دې خيمه کښې دفن دے، هر کال چې کله د هغهٔ د وفات ورځ راځي نو ټول هم داسې دلته راجمع کيږي ◈ ورومبے فوځيان خيمې ته راځي او وائي: اے د بادشاه ځويه! که د جنګ پهٔ ذريعه مرګ منع کيدے شوے نو مونږ به د خپل سر پهٔ تاوان هم تاسو بچ کړي وے ◈ بيا عالمان راځي او وائي: اے د بادشاه ځويه! که د عِلم پهٔ ذريعه مرګ منع

---

[1] … تفسیر نعیمی، پارہ:3، سورۂ بقرہ، زیرِ آیت:258، جلد:3، صفحہ:63۔

کيدے شوے نو مونږ به ضرور تهٔ بچ کړے وے ◈ بيا طبيبان راځي او وائي: اے د بادشاه ځويه! که د مرګ علاج ممکن وے نو مونږ به ضرور ستاسو علاج کړے وے ◈ پهٔ اخره کښې بادشاه او وزير راځي او وائي: ځويه! مونږ ستاسو د بچ کولو ډير کوشش اوکړو خو مرګ څوک منع کولے شي؟ اوس دې د راتلونکې کال پورې پهٔ تا باندې زمونږ سلام وي-

اِمامِ حسنِ بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چې کله دا واوريدل نو هغوئي پوخ نيت اوکړو چې اوس به ټول عمر نهٔ خاندم او تر څو پورې چې پهٔ دُنيا کښې يم هُم د اخرت پهٔ فِکر کښې به مصروف اوسيږم- (1)

| | |
|---|---|
| بے وفا دنیا پہ مت کر اِعتِبار | تُو اچانک موت کا ہوگا شکار |
| موت آکر ہی رہے گی یاد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی یاد رکھ! |
| موت آئی پہلواں بھی چل دیئے | خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د غور مقام دے، واقعي ده چې مونږ څومره کمزوري يو، د الله پاک حُکم هر ساعت پهٔ مونږ باندې نافِذ دے، مونږ که هر څهٔ اوکړو د هغهٔ د قُدرت او اِختيار نه بهر نشو وتلے- د بابا بُلهے شاه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو پنجابي شعر دے د هغې د ترجمې مفهوم دا دے چې اے انسانه! تهٔ د خاورو نه جوړ يې، خامخا به خاورې کيږې، بيا غرور پهٔ څهٔ خبره، د کومې خبرې واه واه--!! نن تهٔ د خاورو د پاسه يې، سبا به د خاورو د لاندې لاړ شې--!! بس هم دا ستا ابتدا او انتها ده-

[1]...تذكرةُ الْاَوْلِيَاء، صفحه:17۔

## آيا د عذاب نه نهٔ ويريږی---؟

پهٔ مونږه کښې يو سوچ موندلے کيږي ، زمونږ پهٔ ذهنونو کښې چرته نا چرته دا خبره عام طور موجوده وي چې **پهٔ ما هيڅ نهٔ کيږي** ◈ زمونږ پهٔ مخکښې چا ته پهٔ ناسته ناسته د زړهٔ دوره وشي، مونږ دا سوچ کوو: د هغهٔ خو کوليسټرول زيات شوي وو، پهٔ ما هيڅ نهٔ کيږي ◈ زما پهٔ خاندان کښې چا ته د زړهٔ مسئله نشته، لهذاپهٔ ما به هيڅ نهٔ کيږي ◈ که څوک ايکسيډنټ اوکړي نو مونږ سوچ کوو: دهٔ خو به ډير خراب ګاډے چلولو، پهٔ ما هيڅ نهٔ کيږي ◈ چې خبر واورو چې پهٔ فلانکي ځائے کښې تندر راپريوتو، دومره خلق پکښې مړه شول، مونږ سوچ کوو چې پهٔ ما هيڅ نهٔ کيږي۔

وروره! **پهٔ ما ولې څهٔ نشي کيدے** آيا مونږ د اسمان نه راکوز شوي يو؟ آيا مونږ اِنسانان نهٔ يو؟ د قرآنِ کريم د سبق نه ډک درې آيتونه مبارک واورئ! **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَفَاَمِنَ اَهۡلُ الۡقُرٰۤى اَنۡ يَّاۡتِيَهُمۡ بَاۡسُنَا بَيَاتًا وَّ هُمۡ نَآئِمُوۡنَ ﴿۹۷﴾ اَوَ اَمِنَ اَهۡلُ الۡقُرٰۤى اَنۡ يَّاۡتِيَهُمۡ بَاۡسُنَا ضُحًى وَّ هُمۡ يَلۡعَبُوۡنَ ﴿۹۸﴾ اَفَاَمِنُوۡا مَكۡرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاۡمَنُ مَكۡرَ اللّٰهِ اِلَّا الۡقَوۡمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۹۹﴾ (پاره:9، سورة اعراف:97/99) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا د استوګنو [ابادیانو] والا د دې خبرې نه بے ويرې شول چې پهٔ هغوئي باندې زمونږ عذاب د شپې راشي چې کله هغوئي اودهٔ وي۔ يا آيا د استوګنو [ابادیانو] والا د دې خبرې نه بے ويرې دي چې پهٔ هغوئي باندې زمونږه عذاب د ورځې راشي چې کله هغوئي پهٔ لوبو کښې اخته وي۔ آيا هغوئي د **الله** تَعَالٰی د پټ تدبير نه بې ويرې دي؟ نو د **الله** تَعَالٰی د پټ تدبير نه صرف تباه کيدونکي خلک بې ويرې وي۔ |

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! پهٔ څومره صفا او واضحه الفاظو کښې مونږ ته وئيلے کيږي چې آيا د استوګنو

والا بے ویرې شول--!! ◈ نـمونځونه قضا کوو او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ پۀ دروغو پسې دروغ وایو او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ پۀ ناپ تول کښې کمے کوو او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ د نورو حقونه خوړلے کیږي او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ کمزورې خاموشه کولے شي او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ غیبتونه کولے شي او بیا هم نۀ ویرېږو؟ ◈ قتلونه عام کیږي ◈ بد کارئ عامې کیږي ◈ بد نظرئ ◈ سندرې سازونه ◈ غلط کتل، غلط اوریدل، غلط وئیل عام کیږي ◈ الله دې معافي اوکړي! د سکه رشتو د طرف نه د جنسي زور زیاتي خبرونه راځي، دومره هر څۀ کیږي، د دې باوجود هم آیا د ابادیانو والا نۀ ویرېږي؟ ◈ آیا نۀ ویرېږو چې د شپې اودۀ یو او عذاب راشي ◈ آیا د **الله** پاک د پټ تدبیر نه بے ویرې شو--؟ او نور څۀ فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾ <br> (پاره:9، سورۀ اعراف:99) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو د الله د پټ تدبیر نه صرف تباه کیدونکي خلک بے ویرې وي- |

معلومه شوه چې د **الله** پاک د عذاب نه، د هغۀ د راګیرولو نه، د هغۀ د پټ تدبیر نه بے ویرې کیدل د **نقصان اوچتوونکو، د تباه کیدونکو** طریقه ده-

سدا خفیه تدبیر سے ربّ کی ڈرنا | سنو! آخرت کا اِسی میں بھلا ہے[1]

## سزا خو به ضرور میلاؤیږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! یقیناً چې **الله** پاک غالِب دے، هغه پۀ خپلو بندګانو

[1]... وسائلِ فردوس، صفحه:31۔

باندې مکمل قُدرت او اِختيار لري، مونږ د يو ساعت د پاره هم د هغهٔ د قُدرت نه بهر نشو وتلے- ځکه د هغهٔ د راګيرولو نه هر وخت ويريدل پکار دي- **اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ (پاره:5، سورۂ نساء:123) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک چې بدي کوي هغهٔ ته به د هغې بدله ورکولے کيږي- |

يعنې څوک چې بدي کوي، هغه به د هغې بدله مومي که پهٔ دُنيا کښې يې مومي او که پهٔ اخرت کښې- (1)

## د اللّٰه پاک د عدل مثال

د **اللّٰه** پاک نبي دے: حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل هغوئي د **اللّٰه** پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړو چې اے کريم مالکه! زهٔ ستا عدل او انصاف ليدل غواړم- وه يې فرمائيل: اے موسیٰ! تاسو به يې وه نهٔ ليدلے شئ- عرض يې اوکړو: مولیٰ! تهٔ پهٔ ښودلو باندې قدرت لرې- وه يې فرمائيل: ځه ! بيا د فلانکي درياب غاړې ته لاړ شئ! او هلته پټ کښينئ او زمونږ عدل ووينئ! حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هغه ځائے ته لاړو، د بوټو وغيره شاته چرته پټ کيناستو او اِنتظار يې شروع کړو- پهٔ دې کښې هلته يو مالداره ګس راغلو، پهٔ اَس باندې ناست دے، پهٔ لاس کښې يې د پيسو نه ډکه تيلۍ ده، هغه د درياب غاړې ته راغلو او ودريدو، د خپلو پيسو تيلۍ يې يو طرف ته کيښودله، د درياب پهٔ اوبو کښې يې مخ لاس ووينځل او پهٔ اَس باندې کيناستو او روان شو- د پيسو تيلۍ کومه چې هغهٔ يو طرف ته ايښودې وه، هغه ترينه هيره شوه- لږ ساعت تير شوے وو چې يو ماشوم هلته

---

[1]... تفسير جلالين مع حاشية صاوی، پاره:5، سورۂ نساء، زيرِ آيت:123، جلد:1، جز:2، صفحه:66-

راغلو، هُغه تیلۍ یـې ولیدله، په هغې کښې دننه پیسې یـې ولیدلې نو تیلۍ یـې راواخسته او کور ته یـې یوړله-

لږ ساعت تیر شوے وو چې هلته یو ړوند بوډا راغلو، هغه په سترګو لیدل نشو کولے، هغه د دریاب په اوبو باندې مخ لاس ووینځل او د ارام د پاره په یو ځائے کښې سملاستو- په دې کښې هُغه مالداره ګس د چا چې تیلۍ وه، کله چې هغه ته معلومه شوه چې زما نه خو تیلۍ د دریاب په غاړه پاتې شوې ده نو هغه بیا واپس راغلو، هلته صرف دا ړوند بوډا وو، مالداره ګس د بوډا نه پوښتنه اوکړه: آیا تا دلته زما تیلۍ لیدلې ده؟ بوډا ووئیل: زۀ خو ړوند یم، ما هیڅ تیلۍ نۀ ده لیدلې- هُغه مالداره سړے غصه شو، وه یـې وئیل: تۀ دروغ وائې، هم تا تیلۍ اوچته کړې ده، زر ووایه چې تیلۍ چرته ده، ګنې زۀ به تا ووژنم- بوډا منت زارې شروع کړه چې وروره! ما تیلۍ نۀ ده لیدلې، زۀ خو ړوند یم- هُغه مالداره ګس د بوډا خبره نۀ اوریدله او په غصه کښې یـې هُغه بوډا ووژلو-

په دې منظر لیدو باندې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ډیر حیران شو چې دا څنګه اِنصاف دے؟ د بوډا ګس خو هډو څۀ قصور نۀ وو، هغه خو هسې ووژلے شو- **الله** پاک وحې راولیږله، وه یـې فرمائیل: اے موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ! هم دا زمونږ اِنصاف دے، معامله په اصل کښې داسې ده چې هُغه چې کوم ماشوم وو، د هغۀ پلار د دې مالداره ګس سره مزدورې کوله، هغۀ ډیره موده هغه له مزدورې نۀ وه ورکړې، په تیلۍ کښې چې کومې پیسې وې، په اصل کښې دا د هغۀ د مزدورۍ پیسې وې، کومې چې هُغه مالداره د ځان سره ایسارې کړې وې- نو د هُغه مزدور ګټه، د هغۀ د ځوي په ذریعه د هغۀ کور ته ورسیدله- کوم چې بوډا وو، هغه په خپله ځوانۍ کښې د دې مالداره ګس پلار وژلے وو، نن د هُغه قتل په بدل کښې هغه پخپله ووژلے شو- داسې مزدور ته خپله مزدورې هم میلاؤ شوه او قاتِل ته د هغۀ

سزا هم میلاو شوه- (1)

الله اکبر! الله تَعَالٰی په ټولو غالب دے...! یو ظالم دې دا ګمان نهٔ کوي چې زهٔ به بچ شم، هیڅ یو زیادتے کوونکے دې دا سوچ نهٔ کوي چې زهٔ به په څه طریقه پټ شم، یو طاقت ور دې دې هُم دا نهٔ ګڼي چې زما به څوک څه نقصان وکړي...!! الله تَعَالٰی په ټولو غالب دے-

## بوډۍ ړنده شوه

مسلم شریف کوم چې د احادیثو ډیر مشهور کتاب دے، پهٔ هغې کښې روایت دے، یوه بوډۍ وه، هغې د صحابیِ رسول حضرت سعید بن زَید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ زمکه باندې د قبضې کولو د پاره جګړه شروع کړه-

حضرت سعید بن زید رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د جګړې کولو پهٔ ځائے وفرمائیل: دا زمکه هُغې بوډۍ له ورکړئ- ما د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوریدلي دي: مَنْ اَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْاَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهٖ طُوِّقَهٗ فِيْ سَبْعِ اَرَضِيْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ یعني کوم کَس چې یو لویشت زمکه هم پهٔ ناحقه واخسته د قیامت پهٔ ورځ به د هغهٔ پهٔ غاړه کښې د 7 زمکو طوق اچولے شي-

د دې نه پس هغوئي دُعا اوکړه: اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَأَعْمِ بَصَرَهَا وَاجْعَلْ قَبْرَهَا فِيْ دَارِهَا یعني یا الله پاکه! که دا دروغژنه وي نو دا ړنده کړې او د دې قبر پهٔ دغه کور کښې جوړ کړې- راوي وائي چې ما ولیدل چې هُغه زنانه ړنده شوې وه، پهٔ دیوالونو پسې به یې لاسونه لګول او ګرځیدله به او وئیل به یې: چې پهٔ ما پسې د سعید بن زید ښیرې لګیدلې دي، اخر یوه ورځ هغه پهٔ کور کښې وسوزیدله او هغه کوهي ته وغورځیدله او مړه شوه او هم

[1]... التبر المسبوک فی نصیحة الملوک، صفحه:54۔

هغه کوهے د هغې قبر جوړ شو-[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وګورئ! الله پاک غالِب دے---!! د هغهٔ اِختيار چليږي- نن سبا هم خلق پهٔ زمکو باندې ناجائزه قبضې کوي، که خوار غريب پهٔ ورړوکي پلاټ اخستو کښې کامياب هم شي نو هغه د قبضه ګروپ نه بچ کول يو بيل کار وي- د اِحتياطي تدبيرونو اِختيارولو باوجود که د هغهٔ پهٔ زمکه باندې قبضه وشي نو پهٔ منتونو او زارو باندې هم د قبضه خورو پهٔ هغه باندې زړهٔ نهٔ سوزي بلکې هم د هغهٔ زمکه هغهٔ ته د واپس کولو د پاره ترې ډيرې پيسې غواړي، که هُغه مظلوم ګس د قبضې اخستو د پاره عدالت کچهرو ته لاړ شي نو د داسې چل وَل نه کار اخستے کيږي چې د زمکې اصلي مالک زمکې ته هم کوز شي خو هغهٔ ته زمکه واپس ميلاو نشي - پهٔ زمکه باندې قبضه کوونکو ته ځان سمول پکار دي چې نن پهٔ کومه زمکه پهٔ قبضه کولو هغوئي خوشحاليږي او د مظلوم ازار اخلي هسې نهٔ چې سبا د مړ کيدو نه پس يې هم دغه زمکه د غاړې طوق جوړ نشي او د رسوايۍ سبب جوړ نشي- بعضې وخت هم پهٔ دُنيا کښې د قبضه ګروپونو انجام د قتل او قيد پهٔ شکل کښې د نورو د پاره عبرت جوړيږي- فرض کړئ که چرې پهٔ دُنيا کښې دوئي ته د خپلو کړو سزا ميلاؤ هم نشي نو سبا د مړ کيدو نه پس خو هغوئي هم پهٔ قبر کښې دفن کيږي او د مرګ نه پس به چې د هُغه حرام او ناجائزه کار کومې سزاګانې ميلاؤيږي، اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيْظ...!! حديثونه مبارک واورئ!

## د 7 زمکو پورې به ننباسلے کيږي

د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د زمکې څهٔ

[1]...مسلم، کتاب المساقاة، باب تحريم الظلم ...الخ،صفحه:625، حديث:1610۔

حصه پۀ ناحقه واخلي هغه به د قيامت پۀ ورځ د 7 زمکو پورې ننباسلے کيږي-[1]

## طوق به ورته پۀ غاړه کښې اچولے کيږي

سرکارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم کَس چې پۀ ظلم سره يو لويشت زمکه د چا نه واخلي الله پاک به هغه د دې خبرې پابند کړي چې هغه ھُغه زمکه د 7 زمکو د تله پورې وکښني بيا به ورته د قيامت پۀ ورځ د هغې طوق اچولے کيږي د دې پورې چې د خلقو ترمينځه فيصله اوکړے شي-[2]

ہمیشہ ہاتھ بھلائی کے واسطے اُٹھیں | بچانا ظلم و ستم سے مجھے سدا یا ربّ! [3]

## چې څۀ کَرې هغه به رِيبې

ډير ښکلے حديثِ پاک دے: مونږ له هميشه دا ياد ساتل پکار دے! حضورِ جانِ کائنات، شاهِ مَوجُودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْبِرُّلَايَبْلٰى نيکي چرې هم نۀ زړيږي وَالذَّنْبُ لَايُنْسٰى ګناه چرې هم نۀ هيرولے کيږي وَالدَّيَّانُ لَايَمُوْتُ او بدله ورکوونکي ذات (يعني الله پاک) له چرې هم مرګ نۀ راځي اِعْمَلْ مَاشِئْتَ څۀ چې غواړې کوئ يې! کَمَاتَدِيْنُ تُدَانُ چې څۀ کَرې هغه به رِيبې- [4]

گَنْدُم زِ گَنْدُم جَوْ زِ جَوْ | اَزْ مَكَافَاتِ عَمَل غَافِل مَشَوْ

---

[1] ... بخاری، کتاب المظالم، باب اثم ...الخ، صفحه:632، حديث:2454۔

[2] ... مسند احمد، جلد:7، صفحه:254، حديث:18037۔

[3] ... وسائلِ بخشش، صفحه:76۔

[4] ... جامع صغير، صفحه:192، حديث:3199۔

**وضاحت:** چې غنم کَرې نو هم غنم به رِيبې، چې وربشې کَرې نو هم وربشې به رِيبې، په دُنيا کښې مکافاتِ عمل دے يعني (چې څۀ کوې د هغې بدله به مومې) والا قانون جاري دے- د دې نه غفلت مۀ کوئ!

| | |
|---|---|
| بَونے والے جو بَوئیں وہ کاٹیں | یہ ہوا تو مَرْ مِٹا یاربّ! |
| آہ جو بَو چُکا ہوں وَقتِ(کٹائی کے وقت) دِرَوْ | ہو گا حَسرت کا سامنا یاربّ! |
| مجھے دونوں جہاں کے غم سے بچا | شاد رکھ شاد دائما یا ربّ![1] |

## مهي يې غټه ګوته وچيچله

**اِمامِ ذَهبي** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه **ليکلي دي:** يو بزرګ يو کَس وليدو چې لاس يې د وَلي نه پريکړے شوے وو او اواز يې کولو چې چا زۀ وليدم هغه دې هيڅکله هم په چا باندې ظلم نۀ کوي- ما د هغۀ نه د دې قيصې پوښتنه اوکړه نو هغۀ ووئيل: زما معامله ډيره عجيبه او نا اشنا ده، زۀ د بد ماشانو ملګرے ووم، يوه ورځ ما د يو مچې مار نه مهيان په زوره واخستل او د کور طرف ته راروان شوم، په لاره کښې يو مهي زما غټه ګوته وچيچله، څۀ په چل وَل زۀ کور ته راغلم او مهے مې يو طرف ته وغورځولو- په غټه ګوته د درد او د تکليف په وجه ما ټوله شپه خوب اونکړے شو- چې سحر شو نو زۀ د طبيب خوا له لاړم او هغۀ ته مې خپل زخمي لاس وښودلو- هغۀ ووئيل چې غټه ګوته به پريکول غواړې ګنې وروستو به بيا ټول لاس پريکول غواړي، نو ما خپله غټه ګوته پريکړه- بيا يوه ورځ زما لاس زخمي شو نو زوړ زخم بيا تازه شو، زۀ په ډير سخت تکليف کښې ووم، زۀ د طبيب خوا له لاړم نو هغۀ د لاس پريکولو ووئيل، ما لاس پريکړو خو بيا هم درد ټول

---

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه:86۔

لاس ته خور شو- زۀ پۀ ډير تڪليف ڪښې ووم لږ ساعت له ارام نۀ راتللو نو وړومبے د ښنګل پورې او بيا د اوګې پورې لاس پريڪړے شو، ځينې خلقو زما نه د تڪليف د شروع ڪيدو وجه وپوښتله نو ما هغوئي ته د مهې والا واقعه بيان ڪړه، هغوئي ووئيل: ڪه چرې تۀ پۀ وړومبۍ مرحله ڪښې د مهې والا خوا له تلے وے او د هغه نه دې معافي غوښتلې وه او هغه دې راضي ڪړے وے نو ڪيدے شي چې ستا دا اندامونه نۀ پريڪيدل، اوس هم وخت شته د هُغه ګس خوا له لاړ شه او هغه راضي ڪړه، د دې نه مخڪښې چې دا تڪليف ټول وجود ته خور شي، ما ډير پۀ مشڪله باندې هُغه د مهيانو والا ولټولو او د معافۍ د پاره د هغۀ پۀ ښپو پريوتم- هغه پريشانه شو او پوښتنه يې اوڪړه چې تۀ څوڪ يې؟ بيا ما هغۀ ته ټول تفصيل بيان ڪړو او پريڪړے شوے لاس مې ورته چې وښودو نو هغه هم پۀ ژړا شو او وه يې وئيل: زما وروره! ما تۀ معاف ڪړې- ما هغه ګواه جوړ ڪړو او بيا د پاره مې پۀ چا باندې د ظلم ڪولو نه توبه ڪړه- [1]

ایک لکیر شام کی، کھتی ہے درمیاں کی بات
خلقِ خُدا کا ایک دِن، باقی ہیں سب خُدا کے دِن

**وضاحت:** يعنې د هرې ورځې نه پس ماښام هم راځي، د هر عروج نه پس زوال هم راځي، هر يو طاقت ڪله نا ڪله ڪمزورے هم شي، د دې نه معلومه شوه چې د مخلوق صرف يوه ورځ ده، يعنې د عمل ورځ، باقي ټولې ورځې د **الله** پاک دي يعنې چې ڪله مخلوق عمل اوڪړو، بيا د هغې نه پس اِختيار د **الله** پاک دے، هغه ڪه وغواړي نو سزا به ورڪړي او ڪه وغواړي نو معاف به يې ڪړي-

---

[1] ...ڪتاب الڪبائر للذهبي، الڪبيرة السادسة والعشرون، صفحه:80-

## چا ته تکلیف مهٔ ورسوئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! بهر حال! **اللّٰه** پاک غالب دے، د هغهٔ اِختیار پهٔ مونږ باندې هر وخت چلیږي، ځکه مونږ له پکار دي چې ◈ د هغهٔ پهٔ حُضُور کښې عاجزي اِختیار کړو، ◈ د تکبر نه هر وخت ځان وساتو، ◈ د طاقت، قوت پهٔ نشه کښې نهٔ راځو۔ ◈ چا ته هُم تکلیف نهٔ رسوو۔ **اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

اِنَّ الَّذِیْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِیْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ یَتُوْبُوْا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَ لَهُمْ عَذَابُ الْحَرِیْقِ ﴿۱۰﴾

(پاره:30، سورهٔ بروج:10)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه کومو خلقو چې مسلمانان سړي او مسلماني زنانه پهٔ ازمیښت کښې اخته کړې بیا یې توبه اونکړه د هغوئي د پاره د دوزخ عذاب دے او د هغوئي د پاره د وور عذاب دے۔

معلومه شوه چې مسلمانانو له تکلیف ورکول ډیر سخت جرم دے او سزا یې د دوزخ لمبې وهونکے وور دے۔

## د تکلیف رسولو یو څو شکلونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ډیره د افسوس خبره ده چې نن سبا مسلمانانو ته تکلیف رَسَوَل ډیر معمولي کار ګڼلے کیږي، خلق بے دریغه نورو ته تکلیفونه رسوي او بالکل نهٔ ویریږي ◈ څوک پهٔ چغلیِ کولو نورو ته تکلیف رسوي ◈ څوک پهٔ کنځلو کولو سره زړونه ازاروي ◈ د نورو پهٔ مال پهٔ ناحقه قبضه کولو ◈ بے قصوره او بے ځایه پهٔ غصه کولو رټلو ◈ پهٔ وهلو ◈ وژلو ◈ خلق د دروغو پهٔ مقدمو کښې پهٔ راګیرولو ◈ پهٔ ټوقو کولو ◈ پهٔ پیغورونو ورکولو ◈ د ټوقو پهٔ نوم باندې د خلقو عزتِ نفس ته پهٔ

نقصان رسولو ◈ پۀ سوشل میډیا پۀ ویډیوز وائرل کولو او ◈ پته نۀ لګي چې پۀ کوم کوم انداز کښې نورو ته تکلیف رسولے کیږي او د دې نه هم ډیره خطرناکه خبره دا ده چې نورو ته پۀ تکلیف رسولو خلق خوشحالیږي، ځان بهادر ګڼي، نورو له دوکه ورکول خپل هوښتیارتوب ګڼي، ځکه نۀ د توبې طرف ته ځي او نۀ د خپل اخرت فِکر کوي-

وائے ناکامی متاعِ کارواں جاتا رہا | کارواں کے دِل سے احساسِ زیاں جاتا رہا

مفهوم: آه! افسوس---!! د قوم سرمایه لوټ شوه- د دې نه هم لوئي نقصان دا دے چې د قوم سره د خپل دې نقصان هډو اِحساس هم نشته-

ګناه خو وشوه، بیا پۀ دې باندې که ستومانه شي نو دا هم لویه خبره ده خو افسوس چې نن سبا خلق د نورو پۀ زړۀ ازارولو پښیمانه کیږي هم نۀ، معافي غوښتل هم ضروري نۀ ګڼي، اُلټا پۀ دې باندې خوشحالیږي- اے کاش چې زمونږ پۀ زړۀ کښې د مسلمان عزت کښیني، مونږ د خپلو مسلمانانو وروڼو اِحترام کول زده کړو- یقین اوکړئ چې پۀ اِسلام کښې امن او سکون، وروروليٰ او پۀ خپل مینځ کښې مینې او محبت ته ډیر اهمیت ورکړے شوے دے، کوم خلق چې دې اِسلامي وروروليٰ ته نقصان رسوي، خپلو مسلمانانو وروڼو له تکلیف ورکوي یا د هغوئي عزتِ نفس ته نقصان رسوي نو هغوئي ډیر بد خلق دي-

## د بد او ښۀ اِنسان پیژندنه

یو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم ته وفرمائیل چې آیا زۀ تاسو د ښو او بدو نه خبر نکړم؟ یو کَس عرض اوکړو: ولې نه یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مونږ زمونږ د بدو او ښو نه خبر کړئ! وه یـې فرمائیل: ستاسو ښه هُغه کَس دے د چا نه چې د خیر طمع اوکړے شي او د هغۀ د شَر نه خلک په اَمن کښې وي او

ستاسو بد هُغه ګس دے د چا نه چې د خير طمع اونکړے شي او د هغۀ د شَر نه اَمن نۀ وي۔ (1)

د دې حديثِ پاک د شرح خُلاصه ده چې هُغه اِنسان چې د خلقو زړونه د هغۀ د طرف نه مطمئين وي، خلق د هغۀ په باره کښې دا اِعتماد لري چې دا ګس چا ته تکليف نۀ رسوي بلکې چې څومره ترينه کيدے شي د نورو خير لټوي، داسې ګس ډير ښۀ دے او هُغه اِنسان د چا نه چې خلق ويريږي، د هغۀ نه د خير طمع نۀ لري، د هغۀ د شَر نه د بچ کيدو کوشش کوي، داسې ګس ډير بد اِنسان دے۔ (2)

## د مسلمان وينه، مال او عزت پۀ مسلمان باندې حرام دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږ ښکلے مذهب اِسلام د هر مسلمان د ځان، مال او د عزت د حفاظت ضمانت ورکوي۔ د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهٗ وَمَالُهٗ وَعِرْضُهٗ يعني د هر مسلمان وينه، مال او عزت پۀ بَل مسلمان باندې حرام دے۔ (3)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکلي دي: يو مسلمان دې د بل مسلمان مال بغير د هغۀ د اِجازت نه نۀ اخلي، د چا بے عزتي دې نۀ کوي، يو مسلمان دې پۀ ناحقه پۀ ظلم سره نۀ وژني ولې چې دا سخت جرمونه دي۔ (4)

---

1 ...ترمذی، کتاب الفتن، باب:72، صفحه:544، حديث:2263۔

2 ...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:579 خلاصةً۔

3 ...مسلم، کتاب البر و الصلة، باب تحريم ظلم المسلم ...الخ، صفحه:995، حديث:2564۔

4 ...مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحه:553 بتغير قليل۔

پهٔ طَبَرانِي شريف کښې دي، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: مَنْ اٰذٰى مُسْلِمًا فَقَدْ اٰذَانِيْ وَمَنْ اٰذَانِيْ فَقَدْ اٰذَى اللهَ (يعني) چا چې (بغير د څهٔ شرعي وجهې) يو مسلمان له تڪليف ورکړو هغهٔ ما له تڪليف راکړو او چا چې ما له تڪليف راکړو هغهٔ **الله** پاک له تڪليف ورکړو- [1]

خدایا! کسی کا نہ دل میں دکھاؤں | اماں تیرے اَبَدی عذابوں سے پاؤں

## د طاقت نشه ډيره خطرناکه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! يوه ډيره خطرناکه باطني بيماري ده: د طاقت نشه- مونږ له دا بيماري د ځان نه بيخي ختمول پکار ده ځکه چې ظُلم عام طور هم هغه څوک کوي پهٔ چا کښې چې د قوت او د طاقت نشه وي-

تارِیخِ اُمَم کا یہ پیامِ ازلی ہے | اے صاحبِ نظراں! نشۂ قُوَّت ہے خطرناک

څوک چې پهٔ ځان کښې د طاقت او د قوت نشه ختمه کړي، زهٔ زهٔ نهٔ کوي، خپل نفس قابو کړي يا داسې ووايئ چې پهٔ ځان کښې دننه فرعون ووژني نو پهٔ حقيقت کښې هُغه ګس د ظلم نه بچ کيدے شي- پهٔ معاشره کښې غور اوکړئ! څوک چې د عاجزۍ والا وي، هغه به چرې هم نورو ته تڪليف نهٔ رسوي، که چرې پهٔ خطا کښې چا ته څهٔ هم ووائي نو زر معافي غواړي او څوک چې د عاجزۍ والا نهٔ وي، څوک چې خپل ځان څهٔ ګڼي، هغه پهٔ وړه وړه خبره باندې لستونړي رانغاړي-

---

[1] ... معجمِ اوسط، جلد:2، صفحه:387، حديث:3607-

## مُلا چرچک ته معافي ميلاؤ شوه

حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د **الله** پاک نبي دے، د هغوئي مشهوره درباري مرغۍ ده: مُلا چرچک- يو ځل مُلا چرچک د حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام د اِجازت نه بغير چرته لاړو، د ملا چرچک په دې حرکت باندې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام ډير خفه شو او وه يې فرمائيل: چې ملا چرچک واپس راشي نو زۀ به هغۀ له سزا ورکووم- کله چې ملا چرچک واپس راغلو او وه يې کتل چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام په جلال کښې دے نو هغۀ عاجزي اوکړه، خپلې وزرې يې په زمکه باندې راښکلې او حاضر شو او په موقع کتلو يې، په ادب سره د قيامت په ورځ د **الله** پاک په دربار کښې د پيش کيدو ذِکر اوکړو، بس د قيامت ذِکر اوريدل وو چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَام ورپيدو او هغوئي ملا چرچک معاف کړو-[(1)]

دل سے غرور نکلے، بہر حضور نکلے | یارب! مجھے بنادے پیکر تو عاجزی کا

## په عاجزۍ او اِنکسارۍ سره اوچت والے نصيب کيږي

**په حديثِ پاک کښې دي:** اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَاتَوَاضَعَ اَحَدٌ لِلّٰهِ اِلَّا رَفَعَهُ الله خوک چې هم د **الله** پاک د پاره عاجزي اِختيار کړي **الله** پاک هغۀ ته اوچت والے عطا کوي-[(2)]

په يو حديثِ پاک کښې فرمائي: اَلتَّوَاضُعُ لَا يَزِيْدُ الْعَبْدَ اِلَّا رِفْعَةً فَتَوَاضَعُوْا يَرْفَعَكُمُ الله عاجزي اِنسان ته صرف هم اوچت والے عطا کوي، بس عاجزي کوئ! **الله** پاک به تاسو ته اوچته

---

[1]... تفسير خازِن، پاره:19، سورۀ نمل، زيرِ آيت:21، جلد:3، صفحه:342 خلاصةً-

[2]... مسلم، کتاب البر و الصلة، باب استحباب العفو...الخ، صفحه:1002، حديث:2588-

مرتبه درعطا کړي۔ (1)

## عاجزي به څنګه نصيب کيږي؟

مونږ له هم پکار دي چې عاجزي اِختيار کړو، د تکبر نه، د ځان خوښۍ نه، پۀ خپله آنا کښې د اوسيدو نه ځان وساتو، د بندګۍ اصلي معيار عاجزي ده، ځکه حقيقي اِنسان هغه دے کوم چې عاجزي اِختياروي، لهذا ◈ د عاجزۍ فضيلتونه لولئ! ◈ د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک سِيرت لولئ! ◈ هديرې ته د تللو عادت جوړ کړئ! ◈ پۀ زړۀ کښې د اللّٰه پاک ويره زياته کړئ! ◈ د تکبر، ځان خوښۍ وغيره نقصانونه لولئ! ◈ د عاجزۍ والا انداز اِختيار کړئ! مثلاً ◈ پۀ سلام کښې وړومبے والے کوئ! ◈ نور د ځان نه بهتر ګڼئ! ◈ کله چې مو هم پۀ زړۀ کښې د تکبر او ځان خوښۍ خيال راشي نو خپل ګناهونه رايادوئ! د قبر او اخرت سوچ کوئ! ◈ څومره چې درنه کيدے شي خپل کار هم پۀ خپلو لاسونو د کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عاجزي به مو نصيب شي او د تکبر او ځان خوښۍ پۀ شان د بدو باطني بيمارو نه به نجات حاصل شي۔ اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې تعارف: دارُ السنه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي په مختلفو ذريعو د عِلمِ دِين پۀ نُور تقسيمولو، پۀ مختلفو ذريعو د عِلمِ دِين پۀ فيضان عام کولو کښې

---

[1]... الترغيب لابن شاہين، باب فضل التواضع...الخ، صفحه:80، حديث:236۔

مصروف دے- د دې مقصد لاندې د دعوتِ اِسلامي پۀ دِيني مرکزونو فيضانِ مدينه کښې يوه شعبه د دارُ السنه پۀ نوم جوړه ده- دا وخت پۀ ټول پاکستان کښې تقريباً 29 دارُ السنه جوړې کړے شوې دي-

شعبه دارُ السنه د يوې دِيني اکيډمۍ پۀ توګه کار کوي ◈ دلته د اِسلامي ورونړو دِيني او تنظيمي تربيت کولے شي ◈ اِسلامي ورونړه د خپلې اسانۍ مطابق تشريف راوړې او عِلمِ دِين حاصلوي- ◈ مختلف سُنَّت او آداب زده کوي ◈ د دعوتِ اِسلامي د دِيني کارونو (مثلاً درس څنګه ورکول دي؟ د انفرادي کوشش طريقه څۀ ده؟ د اِجتماع دعوت څنګه ورکول دي؟ د قافلو د پاره اِسلامي ورونړه څنګه تيارول دي؟ د دې ټولو او نورو دِيني کارونو) تربيت حاصلوي ◈ د دارُ السنه تربيت يافته اِسلامي ورونړه نۀ يواځې پخپله د قافلو مسافر جوړيږي ◈ بلکې پۀ نورو هم سفر کوونکي جوړيږي-

تاسو هم د خپلې اسانۍ مطابق دارُ السنه له وخت ورکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې به مو ډير برکتونه نصيب شي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پۀ ذريعه هم پۀ مختلف انداز کښې د نيکۍ دعوت پۀ عام کولو کښې مصروف دے، دې لړ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا ډير ښکلے، ځانګړے او ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن د بهارِ شريعت (***Bahar e shariyat***) پۀ نوم جاري کړے شوے دے ◈ د صدر الشّريعه، مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ډير اعلیٰ کتاب بهارِ شريعت درې

واړه جلدونه پهٔ دې ايپلي کيشن کښې شامل کړے شوي دي ◈ د دې نه علاوه پهٔ بهارِ شريعت کښې شامل د قرآنِ پاک آيتونه، حديثونه، اصطلاحات او لغت د دې ايپلي کيشن حصه ده ◈ تاسو پهٔ ايپلي کيشن کښې متن هم لټولے شئ ◈ د سرچ نور ښهٔ کولو د پاره پهٔ دې کښې د اُردو د کي بورډ سهولت هم موجود دے د پاره د دې چې پهٔ ايپلي کيشن کښې پهٔ لټون کښې اساني وي۔

دا ايپلي کيشن ېخپله هم په خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي پهٔ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکي هفتې پهٔ ورځ به هم د د ماسخوتن د نمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ېخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د وسيلې برکتونه** اعلان کولے شي۔ دا رساله ېخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **اللّٰه** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ مکتبةُ الْمدينه په قرآنِ پاک کښې ذکر شوو واقعاتو، د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام په معجزاتو او په عبرت انګيزو قصو باندُ مشتمل

کتاب د "**عجائب القرآن مع غرائب القرآن**" په نوم چاپ کړے دے۔ دا کتاب د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه په **450 روپۍ** پۀ بيعه حاصل کړئ، پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې د لوستلو ترغيب ورکړئ۔

## د قربانۍ څرمنې دعوتِ اسلامي ته ورکړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامي د اسلام او مسلمانانو په خدمت کښې مصروف عمل دے، په دې نيکو کارونو کښې تاسو هم خپله حصه شامله کړئ! عيدُ الاضحیٰ [يعني غټ اختر] نزدې دے، عاشقانِ رسول به د قربانۍ سعادت حاصلوي۔ عرض دے چې! د خپلو خپلو قربانۍ د څاروو څرمنې دعوتِ اسلامي ته ورکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! دا به ستاسو د پاره صدقه جاريه وي۔ د دې سره سره په خپلو کوڅو او محله کښې، خپلو عزيزانو او خپلوانو ته په فون وغيره کولو سره هم د دې ترغيب ورکړئ! په خپل کوشش سره څرمنې راجمع هم کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې به هم تاسو ته برکتونه ميلاؤ شي، په حديثِ پاک کښې دي: چا چې د کومې نيکۍ طرف ته رهنمائي وکړه، هغۀ ته به په هغې باندې د عمل کوونکي هومره ثواب ميلاويږي۔[1]

## د اپريل مياشت، د اجتماع مياشت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: هفته واره اجتماع د دعوتِ اسلامي ډير اهم کار دے۔ اے کاش چې! د ټولو داسې ذهن جوړ شي، که لوئي وي او که واړۀ، چې د هيڅا هم د هفته وارې اجتماع

---

[1]... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حديث:2671۔

ناغه نهٔ کیږي-(1) اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اسلامي **د اپريل مياشت د هفته وارو اجتماعاتو د مياشت** په طور نمانځي- ډير ډير کوشش وکړئ، ټخپله هم هفته واره د سنتو ډکې اجتماع کښې شرکت کوئ او نورو ته هم د دې دعوت ورکوئ، که کيدے شي د ځان سره يې د راوستلو کوشش کوئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! په دې مياشت کښې په پابندۍ سره شرکت کولو سره به آئنده شرکت کول زمونږ د پاره اسان شي- **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بيان پهٔ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پهٔ جَنَّت کښې زما سره وي- (2)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## پهٔ کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي: (1):** د قيامت پهٔ ورځ باندې به د عمل پهٔ تَله باندې د ټولو نه وړومبے د بنده پهٔ خپل کور والؤ باندې خرچ

---

1 ...مدنی مذاکرہ، 11 جولائی 2020ـ

2 ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343ـ

کړے شوے مال کیښودے کیږي۔ [1] (2): څوک چې د ثواب په نیت باندې په خپل کور والؤ باندې خرچ وکړي نو دا د هغه د پاره صدقه ده۔ [2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په کور والؤ باندې خرچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په خپل کور والؤ باندې خرچ کولو ◈ د حدیثِ پاک مطابق د هجرت نه پس یو وخت داسې هم راغلو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل کور والؤ د پاره د ټول کال غَلّه جمع کوله۔ [3]

د دې حدیثِ پاک لاندې د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې کومه شرح بیان کړې ده، د هغې خُلاصه دا ده چې دا یعنې د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کال د پاره غَلّه جمع کول، د بنو نُضَیر د قلعې فتح کولو نه پس خبره ده۔ دا هم یاد ساتئ چې حضور، جانِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اکثر چې د ټول کاله غَلّه جمع کوله خو د اُمَّت پاکو مئیندو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُن به په کثرت سره صدقه او خیرات کولو، د ټول کال غَلّه به زر ختمیدله او نوبت به لوږو ته رسیدلو۔ [4]

بھوکے رہتے تھے خود اوروں کو کھلا دیتے تھے | کیسے صابر تھے مُحَمَّد کے گھرانے والے

مفتی صاحب نور لیکي چې: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کال غَلّه جمع

---

[1]... معجم الاوسط، جلد:4، صفحه:329، حدیث:6135۔

[2]... مسلم، کتاب: الزکاۃ، صفحه:502، حدیث:1002۔

[3]... احیاء العلوم، کتاب: توحید، جلد:4، صفحه:343۔

[4]... مرآۃ المناجیح، جلد:5، صفحه:949۔

کول دي د پاره دي چې دا عمل د اُمَّت پهٔ حق کښې سُنَّت جوړ شي، ګنې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور والا د کمزورۍ زړهٔ والا نهٔ وو (بلکې هغوئي پهٔ **الله** پاک باندې کامِل باور لرونکې وو)- [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!                صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پهٔ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پهٔ وخت کښې د مدينے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې د مدينے سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. [2] راځئ چې مونږ هم پهٔ شريکه دا دُرُود ووائيو.

---

[1]... احياء العلوم، کتاب: توحيد، جلد: 4، صفحه: 343۔

[2]... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې مدينے تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمفرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وي نو د ودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. [1] راځئ چې مونږ هم پۀ شريكه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي پۀ هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي. [2] راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريكه ووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي. [3] راځئ چې پۀ شريكه يې ووائيو.

---

[1] ...اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحه:65۔

[2] ...قَوْلُ البَدِیْع، باب ثانی، صفحه:277۔

[3] ...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کَس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، پهٔ دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پهٔ ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې یې لوَلي. (1) راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي. (2) راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهما نه رِوایت دے چې مدینے سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکۍ لیکي. (3) راځئ چې مونږ یې هُم پهٔ شریکه ووائیو.

---

1... قَوْلُ البَدِیْع، باب اَوّل، صفحه:125۔

2... الترغیب والترهیب، کِتَابُ الذِّکْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

3... مَجْمَعُ الزَّوائِد، کِتَابُ الْاَدْعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر يې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغه چې شبِ قدر حاصل کړو-[1] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا په شريکه ووائيو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووۀ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1… تاريخ ابنِ عساكر، 19/155، حديث: 4415